# فتنې پر زړونو داسې را اوړي لکه د پُوزي (حصير) په څېر چې (لوښه لوښه (اوبدل شوی وي

له حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: موږ له عمر رضي الله عنه سره وو، نو هغه وويل: په تاسو کې چا له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې د فتنو په اړه يې يادونه کړې وي؟ ځينو وويل: موږ ترې اورېدلي، هغه وويل: کېدی شي ستاسو موخه هغه فتنه او امتحان وي چې د سړي په خپلې کورنۍ او ګاونډي کې وي؟ هغوی وويل: هو، ده وويل: دا نو هغه فتنه ده چې لمونځ، روژه او صدقه يې کفاره ګرځېدلی شي، خو په تاسو کې چا له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې د هغې فتنې په اړه يې يادونه کړې وي چې لکه د درياب د څپو په څېر څپې وهي؟ حذيفة وويل: خلک چپ شول، نو ما وويل: ما اورېدلي، هغه وويل: په پلار دې آفرين شه چې ستا په څېر اولاد يې راوړی دی، حذيفة وويل: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي: «فتنې پر زړونو داسې را اوړي لکه د پُوزي (حصير) په څېر چې لوښه لوښه (اوبدل شوی وي)، نو کوم زړه چې فتنه ومني، په هغه کې يوه تور ټکی وشي او کوم زړه يې چې رد کړي په هغه کې يو سپين ټکی وشي، تر دې چې د دوو زړونو درلودونکی شي: يو داسې سپين زړه چې لکه صفا ډبره، چې هېڅ فتنه به يې اغېزمن نه کړي تر څو چې اسمانونه او ځمکه وي؛ او بل تور چې خړوالي ته مايل وي (مرباد) زړه، لکه چپه شوی لوښی، چې نه نيکي پېژني او نه له بدۍ انکار کوي، هغه څه کوي چې خواهش يې لري»، حذيفه وايي: ما عمر ته دا هم وويل چې ستا او د فتنو ترمنځ يوه تړلې دروازه ده چې ژر ده ماته شي، عمر وويل: «ماته شي؟ دا ورته سخته ښکاره شوه (ځکه ماته شوې لکه د پرانېستل شوې په څېر نه وي نو ځکه يې هيله مندي وښوده چې) که پرانيستل شوې وای، ښايي بيرته تړل شوې وای» ما وويل: «نه، بلکې ماته به شي» او ما هغه ته وويل چې دا دروازه يو سړی دی چې يا به ووژل شي او يا به وفات شي — دا خبره مبهمه نه وه، ابو خالد وايي: ما سعد ته وويل: «ای ابو مالکه! دا (أَسْوَدُ مُرْبَادٌّ) څه معنا؟» هغه وويل: «په تور کې سخت سپينوالی» وايي ما وويل: «(الْكُوزُ مُجَخِّيًا) څه معنا لري؟» هغه وويل: يعنې چپه شوی لوښی.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

اميرالمؤمنين عمر بن الخطاب رضى الله عنه د صحابه کرامو رضى الله عنهم په ډله کې ناست و، نو هغوی ته يې وويل: په تاسو کې چا له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د فتنو په اړه څه اورېدلي دي؟ ځينو يې وويل: موږ ترې اورېدلي چې د فتنو يادونه يې کوله، نو عمر رضي الله عنه وويل: کېدی شي ستاسو موخه هغه فتنه وي چې له امله يې يو سړی د خپلو نږدې کسانو اړوند له ازموينې سره مخ شي لکه: د ښځې او يا اولاد سره د ډېر مينې له امله، يا دا چې سختې پرې کوي، او يا ورسره له ډېرې ښکېلې کولو څخه په نورو کارونو بوخت شي، يا د هغوی د حقونو په پوره کولو، د هغوی په روزنه او تعليم کې د غفلت له امله، په ورته ډول، د يو سړي په خپل ګاونډي او داسې نورو کې فتنه، شايد ستاسو مطلب دا وي؟ هغوی وويل: هو، نو ويې ويل: دا خو هغه فتنې دي چې محاسبه غواړي او له ډلې يې هغه ګناهونه دي چې تمه شته په نيکيو سره وبخښل شي لکه: په لمانځه، روژې او صدقې سره. خو په تاسو کې چا له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې د عامو فتنو يادونه يې کړې وي، هغه چې ډېرې سختې او لوې وي او ډېر خپرېدل يې خلک داسې وارخطا کوي لکه د درياب څپې يې چې وارخطا کوي؟ نو خلک چپ شول، حذيفة بن اليمان رضي الله عنهما وويل: ما ترې اورېدلي، نو عمر رضي الله عنه خوشحاله شو، او ورته يې وويل: په پلار دې آفرين شه چې ستا په څېر اولاد يې راوړی؛ وواېه، حذيفة وويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: فتنې به راښکاره شي او د انسان زړه پورې به داسې ونښلي لکه څنګه چې پُوزکی د ويده انسان ډډو پورې نښلي، او د فتنو د سختوالي له امله به زړه اغېزمن کړي، دا فتنې به يوه د بلې پسې تکرارېږي، نو کوم زړه ته چې ننوته، هغه خوښه کړه او داسې ورسره ګډه شوه لکه څنګه چې څښاک بدن ته داخلېږي؛ نو د هغه انسان

په زړه کې به تور ټکی کېښودل شي، او کوم زړه یې چې رد کړي، نو په هغه زړه کې به یو سپین ټکی کېښودل شي، تر دې چې زړونه به دوه ډوله شي؛ یو سپین زړه درلودونکی چې په سخت سپینوالي سره به غوټه شوی وي او له نېمګړتیاوو به سلامت پاتې وي، او فتنه به ورته نه وي رسېدلي او هېڅ اغیز به یې پرې نه وي کړی لکه د یوې خویه ډبرې په څېر چې هېڅ شی ورپورې نه نښلي، نو فتنه به ورته هېڅ زیان ونه رسوي، تر دې چې د الله تعالی حضور ته ورشي. او بل زړه به هغه وي چې د فتنو له امله یې رنګ تور اوښتی وي، لکه د کړې یا چپه کوزې په څېر چې اوبه پکې نه ټینګیږي، نو دا زړه به هم همداسې وي چې نه ورپورې خېر نښلي او نه پوهه او حکمت، نه به نیکي پېژني او نه به له بدۍ انکار کوي، مګر هغه څه به کوي چې هغه یې خواهش لري. او حذیفه عمر ته وویل: دا فتنې به ستا په ژوند کې یوه هم راښکاره نه شي، ځکه ستا او د هغوی تر منځ یوه بنده دروازه ده چې نږدې ده ماته شي، عمر وویل: آیا په ماتېدو سره به ماتېږي؟ که چېرته خلاصه شوې وای، کېدی شي بېرته پورې شوې وه، حذیفه وویل: نه، بلکې ماتېږي به، او دا دروازه یو سړی دی چې هغه به وژل کېږي او یا به مړ کېږي. او ما چې د څه یادونه وکړه دا یو منل شوی کره خبر دی، نه دې د لیکوالانو له کتابچو څخه دی او نه د چا نظر دی، بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66382

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee